لوړو زده‌کـــړو وزارت

تابش پوهنتــــــون

د علمي چارو معاونیت

# د انصاف، عدالت او اخلاقي چلند پالیسي

کال:۱۴۰۵

بسم الله الرحمن الرحيم

**سریز:**

د تابش فعالیتونه د یو اکاډمیک، علمي او څیړنیز نهاد په توګه شاوخوا دوه لسیزه کېږي چې د علمي کادرونو د روزنې او پالنې مسؤولیت په څلور پوهنځیو (اقتصا- حقوق او سیاسي علومو، شرعیات او کمپیوټر ساینس) کې لري، چې د لوړو زده کړو وزارت د شته قوانینو، لایحو، پالیسو، لارښوونو او معیارونو په رڼا کې لري.

په دې اساس علمي او اکاډمیک ډګر کې په سل ګونه استادان، په زر ګونه محصلین او په لس ګونه اداري او خدماتي کارکوونکي بوختیاوې لري؛ نو د شتو بشري سرچینو سمبالښت، انسجام، ترمنځه یې د عدالت او انصاف رامنځته کولو ټاکلي چوکاټ (نقشې) ته اړتیا لري؛ څو تحصیلي او اکاډمیک مسایلو ته پر وخت ځواب ووایي. د تابش پوهنتون د دې حالت په درک کولو سره ځانته ځانګړي تګلاره (پالیسي) لری؛ څو د علمي، اکاډمیک، اداري او خدماتي پرسونل د مسؤولیتونو لپاره عدالت او انصاف پرته له تبعیض د خپل کارونو په لومړیتوب قرار ورکوي، چې د استادانو، اداري کارمندانو، خدماتي پرسونل په استخدام او د محصلینو په جذب کې، د استادانو، کارمندانو او محصلینو د تشویق، د بورسیو د توزیع، ترفعیاتو، ارتقاً، مکافات او مجازات، د نمرو په ورکړه او د استادانو د ارزونې په برخه کې اصول رعایت شي.

## لیکلــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــړ

موضوع ـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ مخ


سریز:...................................................................................................................3


### لومړی فصل

### عمومي احکام


لومړۍ ماده: مبنی.......................................................................................................6

دویمه ماده: موخې......................................................................................................6

څلورمه ماده: د تابش پوهنتون تعهد...............................................................................6


### دویم فصل

### د انصاف او عدالت موارد


پنځمه ماده: د کار او مناسب زده کړې مصؤن چاپیریال ...........................................................7

شپږمه ماده: د فرصتونو عادلانه وېش ................................................................................7

اومه ماده: د انصاف او عدالت له اړخه ناقص چلندونه ..........................................................7

اتمه ماده: قانوني اطاعت ..................................................................................................7

نهمه ماده: د انصاف او عدالت تأمین په جذب کې...................................................................7

نهمه ماده: د انصاف او عدالت تأمین په درسي ساعتونو کې ......................................................8

لسمه ماده: د لندمهال او اوږدمهال بورسونو توزیع ................................................................8

یوولسمه ماده: په ورکشاپونو او سیمینارونو کې د انصاف او عدالت تأمین ...................................8

دولسمه ماده: د امتحاناتو په نتایجو کې د انصاف او عدالت تأمین ...........................................8

لومړی بند: د سمستر وسطې ازموینې.................................................................................8

دویم بند: د سمستر نهایې ازموینه ......................................................................................9

دریم بند: د نتایجو اعلانول...................................................................................................9

دیارلسمه ماده: په اکاډمیک آزادۍ کې انصاف او عدالت...........................................................9

څوارلسمه ماده: په ټولنیزو اخلاقو کې انصاف او عدالت............................................................9

پنځلسمه ماده: د شکایتونو په ارزیابۍ کې انصاف او عدالت........................................................9

اولسمه ماده: د اضافه کارۍ په برخه کې انصاف او عدالت ........................................................10

اتلسمه ماده: په حاضرۍ کې انصاف او عدالت ........................................................................10

نولسمه ماده: په تدارکاتو کې انصاف او عدالت .......................................................................10

شلمه ماده: د مکافاتو او مجازاتو په تطبیق کې انصاف او عدالت ..................................................10

یوویشتمه ماده: د تحیق حقوق او امتیازاتو د تادیه کولو په برخه کې انصاف او عدالت .........................11

دوه ویشتمه ماده: د استادانو د علمي موضوعاتو ټاکلو او ترفعیاتو کې انصاف او عدالت .........................11

درویشتمه ماده: د اداري او خدماتي پرسونل د ترفیع او ارتقا په تړاو انصاف او عدالت .........................11

څلورویشتمه ماده: په رقابت کې انصاف او عدالت ........................................................................ 11
پنځه ویشتمه ماده: په استخدام کې انصاف او عدالت ........................................................................ 11

## دریم فصل

## لاس رسی، تعدیل او انفاذ

شپږ ویشتمه ماده: پالیسی ته لاسرسی او نقض ........................................................................ 12
اوه ویشتمه ماده: د پالیسي تعدیل ........................................................................ 12
اته ویشتمه ماده: د پالیسی تصویب او انفاذ ........................................................................ 12

## لومړی فصل

## عمومي احکام

### لومړۍ ماده: مبنی

دا پالیسي (انصاف، عدالت او اخلاقي چلند پالیسي) په تابش پوهنتون کې د انصاف، عدالت او اخلاقي اصولو او نورمونو د رعایت په منظور د د لوړو زده کړو وزارت د قوانینو، د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکوونې چوکاټ د دریم اصلي معیار، دریم فرعي معیار، لومړي شاخص او اوه اتیا ګڼه (۸۷،۱،۳،۳) معیار غوښتنې په اساس ترتیب شوې ده.

### دویمه ماده: موخې

د دې پالیسۍ موخې عبارت دي له:

1. د انصاف او عدالت د اصولو سره سم د استادانو په تقرر او ورځینو چارو (عادلانه مهالویش، د کنفرانسونو ارزیابۍ، مقالات، تالیفي او څېړنیز آثار، ترفیعات، بورسیو، په کمېټو او شوراګانو کې تنظیم، په سیمینارونو او ورکشاپونو کې ګډون) ته توجه کول.
2. د انصاف او عدالت د اصولو سره سم د کارمندانو او خدماتي پرسونل په جذب، ارتقا او امتیازاتو کې عدل او انصاف رعایت کول.
3. د انصاف او عدالت د اصولو سره سرسم د محصلینو ارزیابی او د نمرې ورکول.
4. د تحصیلي نهاد پر ټول پرسونل او محصلینو د قوانینو یوشان تطبیق، د شایسته سالارۍ تقویت، د تبعیض په وړاندې کلکه مبارزه او له واسطې څخه جدي مخنیوي.
5. د قوانینو، مقرراتو، لوایحو او پالیسیو په تړاو د ویبسایت، بینرو، بروشورو، کنفرانسونو او نورو رسنیزو لارو عامه پوهاوې ورکول.
6. د اسلامي امارت د تګلارو او امیر المومنین د فرامینو سره سم منصفانه او عادلانه چلند کول.

### دریمه ماده: د تطبیق ساحه

دا پالیسي د تابش پوهنتون چوکاټ کې په ټولو علمي کادر غړو، اداري، خدماتي، تخنیکي کارکوونکو او محصلانو د تطبیق وړ ده.

### څلورمه ماده: د تابش پوهنتون تعهد

تابش پوهنتون د خپل لید لوري او ماموریت په اساس ژمن دی چې په یاد تحصیلي نهاد کې کې منصفانه او عادلانه فرصتونه چمتو کړي؛ څو ټولو خواو(علمي کادر غړو، علمي، اداري کارکوونکو او محصلانو) ته پرته له هر ډول تبعیض مساوي اکاډمیک، علمي، تدریسي او اداري چاپېریال مساعد شي.

## دویم فصل

## د انصاف او عدالت موارد

### پنځمه ماده: د کار او مناسب زده کړې مصؤن چاپیریال

تابش پوهنتون ژمن دی چې خپلو ټول پرسونل (علمي کادر غړي، اداري، خدماتي کارکوونکو او محصلانو) ته عادلانه، منصفانه او بشپړ ارام د کار او زده کړې مناسب او مصؤن چاپیریال چې ټول پرسونل (علمي کادر غړي، اداري، خدماتي کارکوونکو او محصلانو) کاري او زده کړیزو منابعو ته عادلانه لاس رسي ولري، تامین کړي.

### شپږمه ماده: د فرصتونو عادلانه وېش

د تابش پوهنتون ژمن دی، چې د تبعیض پرته استادانو، کارکوونکو او محصلینو ته د هغوي د حرفوي او علمي اهدافو ته د لاسرسی په منظور فرصتونه چمتو او د هغو په واک کې ورکړي او د هغو موانعو د حذبولو په لټه کي دي چې د تحصیلي خدمات د ګټنې په وړاندې خنډونه ایجادوي؛ نو د یو منصفانه ارزیابۍ په اساس کولی شي د استادانو، کارکوونکو او محصلینو ظرفیتونه او مهارتونه لوړ کړي. په دې اساس د تابش پوهنتون په دې عقیده دی، چې د وړتیا پر اساس ارزیابي او د معیارونو سره سم چلند د انکشاف، انصاف او عدالت لپاره تلپاتې زمینه برابروي.

### اومه ماده: د انصاف او عدالت له اړخه ناقص چلندونه

د تابش پوهنتون هڅه کوي، چې د استادانو، کارکوونکو او محصلینو ترمنځ د احترام وړ چاپېریال چې د تهدید او خطر څخه امن چاپېریال رامنځته کړي. د اړتیا وړ قوانین، لایحې، پالیسۍ، لارښود کتابونه، معلومات او اطلاعات د دوي په اختیار کې ورکوي؛ څو منع شوي کړنې وپېژني او هغه رعایت کړي؛ خو کله چې له دې ډول کړنو (تبعیض، ازار و اذیت، زور کارونې او نور غیر قانوني رفتارونو) زیان وګوري نو بیا کولی شي د عدالت او انصاف پالیسۍ په رڼا کې د تحصیلي نهاد په چوکاټ کې د مدني مسؤولیت غوښتنه او خپل حق وغواړي.

### اتمه ماده: قانوني اطاعت

په تابش پوهنتون کې د قوانینو، اصولو، مقرراتو، لایحو، پالیسیو او بېلابېل کړنلارې د عدالت او انصاف لپاره بستر جوړوي؛ نو ټول استادان، کارکوونکي، خدمات پرسونل او محصلین په قانوني توګه د ټولو حقوقو او وجایبو څخه برخورداره دی او باید د یاد تحصیلي نهاد له سیاستونو سره موافق ووسي؛ خو که بیا هم د زور کارونې، د آزار او ذیب بېلابېلو بڼو او غیر اخلاقي اصولو څخه ګټنه کېږي؛ نو بیا قابل د تعقیب او جزا وړ دي.

### نهمه ماده: د انصاف او عدالت تأمین په جذب کې

د استادانو، محصلینو، اداري او خدماتي کارمندانو د جذب په برخه کې باید لاندې موارد په جدي توګه رعایت شي:

1. د علمي، اداري او خدماتي پرسونل بستونه د تابش پوهنتون په برېښنانه پاڼه کې اعلان ته ورکول او د ازادې سیالۍ له لارې د استخدام پروسه پرمخ وړل.
2. په څانګو کې د بستونو توزیع د اړتیا په اساس په پام کې نیول؛ د استاد او محصل د تناسب (۱/۴۰)، د مضامینو په تعداد او د درسي ساعتونو سره مطابقت کې د تابش پوهنتون په عملیاتي پلان کې ځای کول.

3. په تحصیلي نهاد او پوهنځیو کې د اداري بستونو توزیع د کاري حجم او واقعي اړتیا له مخې د محصل په تناسب (۱/۷۰) په اداري شورا کې درج او د پوهنتون په عملیاتي پلان کې ځای ورکول.

**نهمه ماده: د انصاف او عدالت تأمین په درسي ساعتونو کې**

په دیپارتمنتونو کې د استادانو درسي او علمي مکلفیت د لوړو زده کړو وزارت د لایحې او تابش پوهنتون د بشري سرچینو د پالیسۍ په رڼا کې صورت نیسي؛ کله چې یو مضمون په یوه دوره کې کوم استاد ته د اداري له خوا ورکول کېږي اړتیا ده، چې په نورو دورو کې هم تدریس کړي؛ ولې کله چې خپله استاد د هغه له تدریس څخه انصراف کوي، نو په دې تړاو بیا د دیپارتمنت او پوهنځي ریاست کولی شي د مضمون مسؤولیت بل استاد ته وسپاري؛ خو د مضامینو په وېش کې تخصص باید په پام کې ونیول شي.

د عدالت او انصاف د تأمین لپاره له دې نګاه نه د پوهنځي علمي شورا خپل نظارت او اجراات کوي؛ خو که چېرې استاد متضرر شي استاد کولی شي خپل شکایت د سلسله مراتبو په پام کې نیول سره د څانګې آمر، د پوهنځي له رئیس، او پوهنتون د شکایتونو ته د رسیده ګۍ کمېټې سره شریک کړي یا کولی شي د شکایتونو صندوق له لارې یې درج کړي.

**لسمه ماده: د لنډمهال او اوږدمهال بورسونو توزیع**

تابش پوهنتون د خپلو استادانو او کارمندانو د ظرفیت لوړولو په موخه ژمن دی، چې کله هم کومه بورسیه د لوړو زده کړو وزارت یا نورو توامیتونو په اساس راجع شو؛ نو د یو کمېټې له لارې به یې پر عادلانه توزیع اقدام کوي، چې دغه کمېټه به د اکاډمیک، اداري او تدریسي برخو له مسؤلینو څخه د علمي شورا د پرېکړو په اساس جوړېږي او د خپل صلاحیتونو په چوکاټ کې به تصمیم نیسي.

**یوولسمه ماده: په ورکشاپونو او سیمینارونو کې د انصاف او عدالت تأمین**

ځینې ورکشاپونو او سیمینارونو ته د تحصیلي نهاد بهر د استادانو، اداري او خدماتي کارمندانو معرفي کول د یو مشترک کمېټې له لارې، چې (علمي ، اداري او محصلانو معاونیتونو) ته شاملېږي په شرایطو برابر اشخاص معرفي کېږي؛ خو د تحصیلي نهاد په داخلي کې بیا د اړتیا له مخې د خپل تشکیلاتي جوړښت په پام کې نیولو سره د لومړۍ درجه آمر د معرفي صلاحیت لري؛ څو د کمزورو اشخاصو د ظرفیت لوړونې لپاره پر وخت سم او عادلانه تصمیم ونیسي.

**دولسمه ماده: د امتحاناتو په نتایجو کې د انصاف او عدالت تأمین**

د ازموینو په بېلابېلو بڼو کې د عدالت او انصاف تأمینولو ته اړتیا شته

**لومړی بند: د سمستر وسطې ازموینې**

په ازموینه کې د شفافیت د تأمین په منظور د تابش تحصیلي نهاد علمي شورا دنده ورکوي څو هر استاد د ازموینې له اخېستلو او نمرې ورکولو وروسته د ازموینې پرچې د هغوي په اختیار کې ورکړي؛ څو د نمرو د ورکړې په برخه کې د محصلینو قناعت حاصل شي.

**دویم بند: د سمستر نهایي ازموینه**

د ازموینې مختلفې کمیټې چې د پوهنځي او تحصیلي نهاد په کچه فعالیت لري په هر سمستر کې د علمي شورا د پریکړې په اساس تشکیلیږي، چې ځینې یې د ازموینو د گذارش له ورکولو وروسته منحل کیږي. دغه کمیټې د مهالویش سره سم د ازموینو له صحنو، جریان او پروسې هره ورځ د دورې په تفکیک لیدنه کوي او خپل راپورونه د ازموینو کمیټې په کتابونو کې درجوي، چې بیا خپل توحیدي راپور په لیکلي بڼه د محصلانو چارو معاونیت ته پر وخت سپاري. یاد هیأت د پوښتنو له ډولونو، د ټولگیو د ازموینو له داخلي نظم، د امتحان د وخت، د ازموینې پیل، په ټولگي کې د ممیز او ممتحن استاد موجودیت، د ازموینې لپاره د مناسب چاپیریال او د محصلینو د رضایت په اړه فعالیت کوي.

**دریم بند: د نتایجو اعلانول**

د هر پوهنځي تدریس مدیر له خوا د امتحان نتایج رسماً اعلانیږي؛ نو د اعتراض په صورت کې معترض کولی شي د ازموینو د لایحې او ټاکلو طرزالعملونو سره سم تر دریو ورځو پورې پر خپل نمبرو د بیا کتنې غوښتنه وکړي؛ څو د دریو تنو استادانو او معترض محصل په حضور کې د پارچې له کلید سره مقایسه شي؛ نو د محصل موجودیت د بیاکتنې پر مهال د شفافیت، انصاف او عدالت تأمین ته لاره خلاصوي.

**دیارلسمه ماده: په اکاډمیک آزادۍ کې انصاف او عدالت**

د علمي چارو معاونیت لخوا د استادانو  او محصلینو د علمي آزادۍ د حمایت لپاره د اکاډمیک ازادۍ پالیسي تصویب کړې، چې د مختلفو لارو د ذیدخیل خوااو سره شریک شوي همدارنگه پوهنځیو ته رسیدلي؛ نو په مختلو برخو باندې تاکید لري او هیڅوک د دې پالیسۍ په رڼا کې د خپل علمي نظر د وړاندې کولو له وجهې تر تهدید او توهین لاندې قرار نه نیسي.

**څوارلسمه ماده:  په ټولنیزو اخلاقو کې انصاف او عدالت**

د علمي چارو معاونیت د سلیقوي چلندونو او بېلابېلو تعصباتو څخه د مخنیوي په موخه د اخلاقي اصولو پالیسي تدوین او تصویب کړې؛ څو ډاډمن اخلاقي محیط رامنځته کړي. د دې پالیسي موارد د بېلابېلو لارو د ذیدخیلو اشخاصو او څانگو سره شریک شوي؛ نو په دې پالیسۍ کې په واضحه او ښکاره توگه وضاحت شته چې هر ډول تخطی، تخلف او تېروتنه چې د هر مرجع له خوا صورت ونیسي د لوړو زده کړو وزارت د قوانینو، لایحو او د تابش پوهنتو د پالیسیو په رڼا کې قابل د بررسۍ، تحقیق او تعقیب دي.

**پنځلسمه ماده: د شکایتونو په ارزیابۍ کې انصاف او عدالت**

شکایتونو ته د رسیده گۍ پالیسۍ او طرزالعمل د تابش پوهنتون په کچه شتون لري چې د یو دعوت، ارشاد او شکایتونو ته رسیده گۍ کمېټې له لورې یې اجرایوي فعالیتونه ترسره کیږي؛ نو په یادو چوکاټونو کې د شکایتونو درج کولو روش او د رسیده گۍ مسایل روښانه شته، چې استادان، کارمندان او محصلین کولی شي د هغې له لارې خپل شکایتونه د حل په پار شریک کړي.

**اولسمه ماده: د اضافه کارۍ په برخه کې انصاف او عدالت**

تابش پوهنتون د لوړو زده کړو وزارت او شته بشري منابعو پالیسۍ په رڼا کې اکاډمیک، اداري او خدماتي پرسونل ته کاري بوختیاوې په پام کې نیولی، چې د شورا ګانو له تائیدي وروسته د اضافه کارۍ په وړاندې ټاکلي حق الزحمه هم ورته ورکول کېږي.

**اتلسمه ماده: په حاضرۍ کې انصاف او عدالت**

د علمي، اداري، تدریسي او خدماتي پرسونل حاضرۍ د لوړو زده کړو وزارت قوانینو او د تابش پوهنتون د شتو پالیسو په رڼا کې تنظیم شوي او هره ګټګورۍ پرسونل په خپلو کاري او انفرادي پلانونو کې دا په پام کې نیسي. البته هغه تعداد استادان چې په شوراګانو، کمېټو او اداري برخو کې توظیف شوي له ځان څخه وړتیا ښایي د لاسته راوړنو ګذارش یوه کاپي په علمي دوسیو کې ځای پر ځای کېږي؛ نو له همدې لارې د مکافاتو سره مخامخ کېږي.

د اداري کارمندانو لپاره رسمي کاري ورځې او حاضري د کال فصلونو ته په کتو اداري شورا د پرېکړې په اساس د اداري خدماتو په وړاندې کولو کې بوختیاوې لري؛ خو د رخصتۍ لپاره بیا ځانګړې (leave Form) وجود لري که د دې برسېره بیا هم یو کارمند د خپل آمر له خبرولو پرته خپله سپارل شوي دنده ترک کړي غیر حاضر شمېرل کېږي.

محصلین مکلفیت لري چې د خپل ټاکل شویو مهالویشونو سره سم په هر سمستر کې خپل درسي ساعتونو ته حاضر شي، څکه هر استاد په جلا توګه خصوصي حاضري لري؛ نو کله چې محصل په ټولګي کې حضور ونلری غیر حاضر شمېرل کېږي. په دې اساس د هر محصل د محرومیت او شمولیت تصمیم د هر استاد د خصوصي حاضرۍ پربنسټ چې (۷۵٪) سلنه حاضري یې تکمیل کړي ونه اوسي نیول کېږي؛ نو د یادونې وړ ده د تحصیلي نهاد هیڅ مرجع د استاد په خصوصي حاضري کې د تغیر صلاحیت نلري؛ خو استثنی حالاتو کې د علمي شورا پرېکړې د منلو او تائیدي وړ دي.

**نولسمه ماده: په تدارکاتو کې انصاف او عدالت**

د تابش پوهنتون په چوکاټ کې د مواد د اړتیا په صورت کې د اداري معاونیت له چینل څخه د اماده کولو مسؤولیت د تهیه او تدارکاتو مدیریت ته سپارل شوي، چې د خپلو پالیسو او ځانګړو کړنلارو په رڼا کې فعالیت او پر چمتو کولو اقدام وکړي؛ نو د اداري شورا له لارې که اړتیا ووسي په دې برخه کې مربوطه څانګې خپل طرحې شریکولي شي؛ څو موثر او ګټور مدیریت شي.

**شلمه ماده: د مکافاتو او مجازاتو په تطبیق کې انصاف او عدالت**

د تابش پوهنتون په علمي، تدریسي، اداري او خدماتي برخو کې د مکافاتو او مجازاتو اصل ته پابند دي او د خپل توانایي سره سم د مادي او معنوي مکافاتو څخه کار اخلي او د تخطۍ په وړاندې بیا د شته دسپلیني مؤیداتو نه په ګټنې د اداري تخلفاتو مخه نیسي؛ په دې اساس ټول پرسونل د پالیسو په رڼا کې تر حمایت لاندې قرار لري او بېلګې یې شته.

**یوویشتمه ماده: د تحیق حقوق او امتیازاتو د تادیه کولو په برخه کې انصاف او عدالت**

تابش پوهنتون د تحقیق د تشویق او ترغیب په برخه کې ځانګړي میکانېزم ته اړتیا لري چې د دې پالیسۍ په رڼا کې د علمي، تحقیقي او نشراتي فعالیتونو حق الزحمې طرزالعمل وضع کوي؛ څو د تالیف، تحقیق او تقریظ حق الزحمې تادیه

شي. همدارنګه د استادانو علمي مقالې به د تابش پوهنتون په مجله کې د قانوني مراحلو له طي کولو وروسته نشر ته وړکول کېږي.

**دوه ویشتمه ماده: د استادانو د علمي موضوعاتو ټاکلو او ترفعیاتو کې انصاف او عدالت**

د استادانو د موضوعاتو په ټاکلو کې محقق (څېړونکی) ډېر مهم رول لري؛ نو محقق استاد پخپله خوښه او اراده درې عنوانونه د خپل د څېړنې لپاره ټاکي او دیپارتمنت ته یې وړاندې کوي؛ نو د دیپارتمنت مجلس له دې موضوعاتو څخه هغه موضوع د استاد د څېړنې لپاره انتخابوي چې ټولنه ورته ډېره اړتیا ولري. د استادانو د ترفیعاتو موضوع د لوړو زده کړو وزارت د ترفیعاتو قانون په رڼا کې په معینه موده کې د دیپارتمنت د علمي شورا، پوهنځي علمی شورا، د تحصیلي نهاد د ترفیعاتو کمېټې، د تحصیلي نهاد علمي شورا څخه طي مراحل کېږي؛ ولې د متعرضو استادانو د اعتراض لپاره د تحصیلي نهاد د لوړو مقاتو دروازې له دې اړخه خلاصي پرېښي؛ څو موضوعات یې تر تعقیب او بررسي لاندې ونیول شي.

**درویشتمه ماده: د اداري او خدماتي پرسونل د ترفیع او ارتقا په تړاو انصاف او عدالت**

د اداري او خدماتي کارمندانو او علمي کادر غړو د ترفیع او ارتقاء اړوند مسایل د کلني ارزیابۍ په پایله کې په ډېر دقت سره مشخص کېږي؛ څو په راتلونکي کې د نویو پوستونو او موقفونو لپاره د بهرنۍ استخدام په پرتله داخلي استخدام ته ترجیح ورکړل شي؛ خو د شایسته سالارۍ نظام باید له پامه ونه غورځول شي؛ نو هرې څانګې د آمر په مستقیمه ارزیابۍ، د نوښتونو په مدارکو او همدارنګه د کارکوونکو چارو آمریت په ګذارش سره د ارتقا او ترفیع زمینه د پالیسۍ په رڼا کې ترسره کېږي.

**څلورویشتمه ماده: په رقابت کې انصاف او عدالت**

په تابش پوهنتون کې د سیالۍ ضد چلند او فعالیتونه تشخیصوو او له هغه څخه ځان ساتي؛ نو په منصفانه او شفاف بازار باور لرو او هر ډول نا سالم رقابت نه ځان ساتو، هغه اعمال چې د عادلانه او مثبتې سیالۍ مخه نیسي ترې ډډه کوو. موږ په پوره قدرت سره له خپلو سیالانو سره مثبته او د قانون په چوکاټ کې سیالي کوو او د مؤسسې د فعالیتونو د تبلیغ پر مهال د انصاف او ربښتینولۍ اساساتو ته ژمن یو د غیر قانوني او غیر اخلاقي رقابت څخه په کلکه ځان ساتو، د هغه څه چې نه یې شو ترسره کولی ژمنه نه کوو، په اشتهاراتو کې د واقعیت خلاف لیکنو، ژمنو او مبالغې څخه ډډه کوو. موږ خپل ټول فعالیتونه د جیګ بیرغ لاندې په صادقانه ډول ترسره کوو.

**پنځه ویشتمه ماده: په استخدام کې انصاف او عدالت**

په تابش پوهنتون کې د ټولو اکاډمیکو، اداري او خدماتو کارکونکو استخدام د افغانستان اسلامي امارت د اصولو له مخې صورت نیسي. په استخدام کې هېڅ ډول توپیر ته قایل نه ده. د شخص د استخدام پر مهال د لیاقت پرته بل هېڅ ډول مورد ته ارزښت نه ورکول کیږي. د پورتني اصل څخه عدول وکړل شي شخص کولی شي له هغه څخه راپور ورکړي. په مؤسسه کې د هغو اشخاصو استخدام چې د هېواد نافذو قوانینو او لوایحو منع کړی وي جواز نه لري.

## دریم فصل

## تعدیل او انفاذ

### شپږ ویشتمه ماده: پالیسی ته لاسرسی او نقض

د انصاف او عدالت پالیسي د عامه پوهاوي او همدارنگه د تابش پوهنتون د ویب سایټ له لارې د لاسرسي وړ دي؛ خو هر هغه عمل چې د دې پالیسي د موارد د نقض سبب گرځي قابل د تحقیق او تعقیب دي، چې د نظم او دسپلین کمېټې له لارې قانوني چلند سره مواجه کېږي.

### اوه ویشتمه ماده: د پالیسي تعدیل

دغه د دوعوت، ارشاد او شکایتونو ته د رسیده گۍ کمېټې د دوه ثلثو غړو په غوښتنې، د علمي شورا د اکثریت غړو په تائیدي قابل د تعدیل دي، چې د تابش پوهنتون د رئیس له لاسلیک وروسته د اجرا عملي بڼه خپلوي.

### اته ویشتمه ماده: د پالیسی تصویب او انفاذ

دغه پالیسي د تابش پوهنتون ستراتیژیک پلان کمېټې (۲) گڼه ۲۲/ ۰۲/ ۱۴۰۵ نېټه مجلس او د پوهنتون په (۲) گڼه علمي شورى کې چې په (۱۴۰۵/۲/۲۹) نېټه دابره شوې وه په یوې سریزې، دریو فصلونو او اته ویشت مادو کې تصویب او د پوهنتون د رئیس له لاسلیک وروسته د اجرا وړ وگرځیده.